السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا». "د ايمان خوند هغه چا څکلی دی چې په دې راضي وي چې الله تعالی يې رب، اسلام يې دين او محمد صلی الله عليه وسلم يې رسول دی

له عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا». "د ايمان خوند هغه چا څکلی دی چې په دې راضي وي چې الله تعالی يې رب، اسلام يې دين او محمد صلی الله عليه وسلم يې رسول دی".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هغه مؤمن چې په خپل ايمان کې رښتيني وي او زړه يې پرې ډاډمن وي نو خامخا به په خپل زړه کې ډاډ، پراخوالی، خوښي، خوږوالی او الله تعالی ته د نږدې کېدو لذت ومومي که چېرته په دريو شيانو راضي شو: لومړی: له الله تعالی څخه د ښښتن په توګه داسې راضي وي چې زړه يې په هغه څه آرام وي چې د الله تعالی له خوا ورته د هغه د ربوبيت په توګه ورکړل شوي لکه: د روزو او بېلابېلو حالاتو وېش، نو په زړه کې پرې هېڅ اعتراض نه لري او له الله پرته د بل رب پلټنه هم نه کوي. دويم: په اسلام د دين په حيث داسې راضي وي چې اسلامي دندو او وجايبو ته يې سينه خلاصه وي او له اسلام پرته د بلې لارې په لټه کې نه وي. دريم: پر محمد صلی الله عليه وسلم د رسول په توګه داسې راضي وي چې سينه ورته پراخه وي او پر ټولو هغو څه له شک پرته خوښ وي چې هغه ورته راوړې دي او يوازې هغه څه تعقيبوي چې د هغه د لارښوونې سره سم وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65116

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee